افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

ICC T20I PLAYER OF THE DECADE

د نړیوالو ۲۰ اوریزو سیالیو د لسیزې غوره لوبغاړی

بهترین بازیکن یک دهه‌ی بازیهای ۲۰ آوره بین المللی

بریـــــــا د ټولو هیله

اووم کال، دولسمه ګڼه | ډسمبر- ۲۰۲۰ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو او بازار موندنې څانګه
مياشتنۍ مجله
ډسمبر - ۲۰۲۰



مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی

ليکوالان او راټولوونکي:
محمد فريد هوتک، حکمت الله دولتزی،
پرهيز شګيوال, محمد نعمان اشرفي, او
سيد خوشحال سادات

عکس اخيستونکي:
سيد حسرت سادات او صديق الله عابد

ډيزاين: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

سرمقاله	١
ښاغلي فرهان یوسفزي د کرکټ نړیوالې شورا له مشر سره لیده کاته وکړل	٢
افغانستان کرکټ بورډ د راشدخان د ستر ویاړ په پار د خوښۍ جشن ونمانځه	٦
افغان ولسمشر ملي ستورى راشدخان پر مډال نازوي	١٠
کابل کې د نوي لوبغالي د جوړېدو په موخه ٦٠ جریبه ځمکه ځانګړې شوه	١٢
دافغانستان کرکټ بورډ د ځانګو پېژندنه	١۴
کلاه ایمنی کرکت (Cricket helmet)	٢٠
تیم خوست زلمیان جام قهرمانی اکادمی ها را از آن خود کرد	٢٦
د افغانستان د لوړ قد درلودونکي رحمت الله سره مرکه	٢٨
یو شمېر لوبغاړانو ته د لوبغاړني د لومړۍ کچې څلور ورځنۍ کورس پیل شو	٣٢
The ICC Awards of the Decade winners announced	۴٧

سرمقاله

که څه هم په ۲۰۲۰ز کال کې د کورونا له امله د نړۍ هر ډګر له ډېرو جګو او ټیټو سره مخ شو، د ورزش نړۍ او افغان کرکټ بورډ هم ترې پرې په امن پاتې نه شول. افغان کرکټ بورډ د یاد کال په پیل کې د ایرلنډ پر وړاندې خپله لوبلړۍ وګټله.

وریپسې د کورونا ناروغۍ پر نړۍ وزرونه خواره کړل او هر څه له خنډونو سره مخ شول، خو د دې ټولو سربېره افغان کرکټ بورډ بیا هم د لومړۍ څپې په پای ته رسېدو سره شپږیزه کرکټ لیګ او د کورنۍ کرکټ نور ټورنمنټونه ترسره کړل چې دغه چاره پر سترو لاسته راوړنو دلالت کوي.

له نېکه مرغه د همدې کال پای له ویاړونو ډک و، په ترڅ کې یې راشدخان د کرکټ نړیوالې شورا د یوولس کسیزې لوبډلې په نوملړ او دغه راز په نړیوالو شل اوریزو لوبو کې د غوره توپ اچونکي مقامونه خپل کړل او خپل هېواد ته یې دغه ویاړونه وروبخښل.

باید وویل شي چې راتلونکی ۲۰۲۱ز کال ډېر کرکټ لرو، چې انشاءاللّه پیل به یې په بریاو سره وي او دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو جام د لیګ لوبو ته هم غوره چمتووالی نیول شوی او په پوره چمتووالي سره به په یادو سیالیو کې ګډون کېږي.

درنښت

اداره

ښاغلي فرهان یوسفزي د کرکټ نړیوالې شورا له مشر سره لیده کاته وکړل

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي د کرکټ نړیوالې شورا له مشر ښاغلي ګرېګ بارکلي سره لیده کاته وکړل. په دغه لیدنه کې د افغانستان کرکټ بورډ لپاره د نورو دایمي غړو هېوادونو اندازه او ورته مالي مرستو د ورکړې ترځنګ له لسو غوره هېوادونو سره د کرکټ لوبو ترسره کولو او برابرولو غوښتنه وشوه.

د کرکټ نړیوالې شورا مشر په افغانستان کرکټ بورډ کې د لا ډېرې روڼتیا په موخه د وروستیو هلو ځلو او پرمختګونو او همدا راز د ښځینه کرکټ لوبډلې د جوړولو د ستاینې ترځنګ د نړیوالې شورا د لا ډېرې همکارۍ ژمنه وکړه او هیله یې څرګنده کړه چې د افغانستان کرکټ بورډ د مشرتابه له لوري پر ذکر شویو وړاندیزونو به ژر تر ژره غور وکړي.



International
Cricket Council

T20I PLAYER OF THE DECADE

د نړیوالو ۲۰ اوریزو سیالیو د لسیزې غوره لوبغاړی

بهترین بازیکن یک دهه‌ی بازیهای ۲۰ آوره بین المللی

افغانستان کرکټ بورډ د راشدخان د ستر وياړ
په پار د خوښۍ جشن ونمانځه

افغانستان کرکټ بورډ، د ډسمبر میاشتې په ۳۱مه، د خوښۍ د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې په نړیوالو شل اوریزو سیالیو کې د لسیزې د غوره لوبغاړي په توګه د کرکټ د ځلانده ستوري راشد خان د ستر وياړ او لاسته راوړنې جشن ونمانځه.

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه په یاده غونډه کې د کرکټ ملي لوبډلې د مخکښ لوبغاړي وروستۍ سترې کارنامې وستايلې او هغه يې د ټول ملت لپاره ستر وياړ او د اعزاز هویت وباله.

همدا راز د راشد خان ورور حلیم خان هم چې په یاده غونډه کې یې ګډون درلود؛ د افغان کرکټ بورډ له عمومي رييس ښاغلي فرهان یوسفزي ځانګړې مننه وکړه چې د دغه جشن سربېره يې له جلالتمآب ولسمشر

څخه ملي اتل راشد خان ته د دولتي عالي مډال غوښتنه هم کړې ده.

په یادو مراسمو کې د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رییس ښاغلي رحمت الله قریشي له لوري د راشد خان کورنۍ ته د افغانستان

کرکټ بورډ تندیس او د المپیک ادارې مشر حفیظ الله ولي رحیمي له لوري د المپیک ادارې ملي نښان ورکړل شول.

په دغو مراسمو کې د بېلابېلو ادارو مشرانو، چارواکو، د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړو، لسګونه ځوانانو او د ادارې کارکوونکو هم برخه اخیسته وه.

د یادونې وړ ده چې راشدخان د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر میاشتې په وروستیو کې د کرکټ نړیوالې شورا د شل اوریزو سیالیو د لسیزې په ځانګړې لوبډله کې ځای خپل کړ چې ورپسې یې د یادې شورا د شل اوریزو نړیوالو سیالیو د وروستۍ لسیزې د غوره لوبغاړي لقب او ویاړ هم خپل کړ چې په همدې موخه ورته د کرکټ بورډ ادارې له لوري د خوښۍ ځانګړې مراسم نیول شوي وو.

RASHID KHAN

افغان ولسمشر ملي ستوری راشدخان پر مډال نازوي

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رييس ښاغلي فرهان یوسفزي د هېواد له ولسمشر جلالتمآب محمد اشرف غني هیله کړې، ترڅو د کرکټ نړیوالې شورا له لوري ملي اتل راشدخان ته په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې د یوې لسیزې د غوره لوبغاړي د ویاړ ترلاسه کولو په پار عالي دولتي مډال ورکړي.

ښاغلي یوسفزي په دې تړاو وویل: کله چې له اوسمهال یو- نیم کال وړاندې د کرکټ اداري ته د عمومي رییس په توګه راغلم نو راشدخان د ملي لوبډلې لوبډلمشر و، خود مشورو او سپارښتنو په پایلو کې مو نوموړی بیرته د ملي لوبغاړي په توګه وساته. ښاغلي یوسفزي دغه راز زیاته کړه: د دې کار یوازېنی موخه دا وه ترڅو زموږ دغه ستر ستوری د افغانستان لپاره پر خپلو ویاړونو ګټلو او د افغان ولس پر خوشحاله ساتلو تمرکز وکړي چې په لوبډلمشرۍ کې یې خپل تمرکز او هغه استثنایي وړتیا چې نوموړی یې لري؛ له لاسه ورکوله. باید وویل شي چې راشدخان د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر په ۲۷مه د کرکټ نړیوالې شورا د ځانګړې لوبډلې په نوملړ کې ځای خپل کړ او ورپسې یې یادې میاشتې په ۲۸مه نېټه د یادې شورا د شل اوریزو سیالیو د وروستۍ لسیزې د غوره لوبغاړي ویاړ هم ترلاسه کړ. د یادونې وړ ده چې افغانستان کرکټ بورډ هم د ډسمبر په ۳۱مه د ملي اتل د یادو ویاړونو او سترو لاسته راوړنو په موخه د خوښۍ جشن ونمانځه او په ترڅ کې یې په همدې تړاو ټولو هېوادوالو او د کرکټ مینه والو ته ځانګړې مبارکۍ وړاندې شوې.

کابل کې د نوي لوبغالي د جوړېدو په موخه ٦٠ جريبه ځمکه ځانګړې شوه

د افغانستان اسلامي جمهوريت ولسمشر جلالتمآب محمد اشرف غني د حکم پر بنسټ، د کابل په الوخېلو سيمه کې د کرکټ د يوه معياري لوبغالي د جوړېدو په موخه ٦٠ جريبه ځمکه ځانګړې شوه چې د لومړنيو رسمي چارو له بشپړېدو وروسته به يې ډېر ژر د رغونې چارې هم پيل شي.

د ياد لوبغالي ځمکه چې جلالتمآب ولسمشر محمد اشرف غني يې د شپږيزې کرکټ ليګ اووم پړاو سياليو د پرانېستې په مراسمو کې د ځانګړې کولو ژمنه کړې وه؛ د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رييس ښاغلي فرهان يوسفزي د هلو ځلو په پايله کې نن ځانګړې او رسمي پروسه يې بشپړه شوه.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رييس ښاغلي يوسفزي په دې اړه وويل، د خوښۍ ځای دی چې جلالتماب ولسمشر د افغان کرکټ د لا ډېرې پياوړتيا په موخه په کابل کې د يوه معياري لوبغالي د جوړېدو لپاره د يوه حکم په ترڅ کې ٦٠ جريبه ځمکه ځانګړې کړه.

ښاغلي يوسفزي وويل: په دې اړوند خپلو ټولو هېوادوالو ته زېرى ورکوم چې کابل به په نږدې راتلونکي کې د يوه معياري او نړيوال کرکټ لوبغالي درلودونکی وي چېرې به چې زموږ هېوادوال له کرکټ څخه له نږدې خوند اخلي او خپل اتلان به له نږدې هڅوي.

نوموړي دغه راز وويل: په دې تړاو له جلالتماب ولسمشر مننه کوم چې افغان کرکټ ته ځانګړې پاملرنه کوي او هر مهال يې خپل اتلان هڅولی دي. د لومړنيو رسمي چارو له بشپړېدو وروسته به يې د رغېدو چارې هم ډېرې ژر پيل شي او زه ژمنه کوم چې په ډېر ښه کيفيت سره به يې ټول کارونه پر مخ ولاړ شي.

بايد وويل شي چې دغه لوبغالی به په نړيوالو معيارونو برابر وي چې سربېره پر دې به د کورنيو او بهرنيو لوبغاړو لپاره د پنځه ستوري لرونکي مېلمستون، د معياري حوض، د سرپټې او سرلوڅې روزنځايونو يا اکاډميو، د نندارچيانو لپاره د سيوري لرونکي ناستې ځايونو، د لوبغاړو لپاره د روغتيايي مرکز، د جومات، د موټړونو تمځای، د اداري ودانۍ او نورو اړوند اسانتياوې درلودونکی هم وي.

د يادونې وړ ده چې د ياد لوبغالي په جوړېدو سره به د کرکټ ٣٥ زره نندارچيان په ياد لوبغالي کې سيالۍ له نږدې ننداره کړئ شي او همدارنګه به د کورنيو لپاره هم ځانګړی ځای لرونکی وي.

د افغان کرکټ د لا ډېرې پياوړتيا او افغانستان ته د نورو هېوادونو د کرکټ لوبغاړو د راتګ په موخه د ورته لوبغالي رغېدل ډېر اړين دي، او دغه راز د نوو او پټو استعدادونو د موندنې په برخه کې هم رغنده او ځانګړی رول لوبوي.

د افغانستان کرکټ بورډ
د ځانګو پېژندنه

د افغانستان کرکټ بورډ د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه د فساد پر وړاندې ټولې هغه چارې تنظیم او ترسره کوي چې پر بنسټ یې د افغان لوبډلې د لوبغاړیو پر مهال او د اداري په چاپېریال کې څارنه کېږي، د سرغړونو پر مهال جدي ګام اخلي او هیڅوک اجازه نه لري چې له اصولو سرغړونه وکړي. نو دا ځل مو د افغان کرکټ مجلې لپاره د افغان کرکټ بورډ له یادې څانګې سره بشپړه مرکه کړې، د دوی فعالیتونه، ورځنۍ چارې، لاسته راوړنې اصلاحات او نور اړوند موارد درسره په دغه مرکه کې شریکوو.

د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې کارکوونکي:

د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې کارکوونکي: د افغانستان کرکټ بورډ د فساد ضد یا د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه کې درې کارکوونکي دندې پر مخ وړي، چې له ډلې یې سید انور شاه قریشي د دغې څانګې د مدیریت مسوولیت پر غاړه لري، د نظامي زده کړو سربېره یې هم په یاده اړوند برخه کې تر ډېرې مودې کار کړی او لا هم خپل خدمت ته دوام ورکوي.

همدارنګه په یاده څانګه کې دوه نور کارکوونکي هر یو رحیم خوستوال چې په سیاست او ډیپلوماسۍ کې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري، د دغې څانګې د مرستیال مدیر او احمد جاوید اخلاص چې د لیسانس تر کچې لوړې زده کړې

فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه په څو ټکو کې

لري؛ د یادې څانګې ارشد افسر په توګه دنده ترسره کوي. د یادونې وړ ده چې د یادې څانګې کارکوونکي د کرکټ په ټولو اصولو پوه او په اړوند ډګر کې بشپړه تجربه لري. د افغانستان کرکټ بورډ د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه په ۲۰۱۷ م کال کې د افغانستان کرکټ بورډ په جوړښت کې شامله شوه دغه څانګه دهیواد په داخل او بهر کې د لوبغاړو ساتنه او څارنه کوي. افغان کرکټ بورډ له ۲۰۱۷ کال وړاندې د کرکټ د نړیوالې شورا (ICC) د فساد پر وړاندې د مبارزې اصولو او نړیوالو قوانینو په رڼا کې خپلې پرېکړې کولې، خو د کرکټ بورډ د نوي مشرتابه په راتګ سره د افغان کرکټ لپاره نوی قانون تایید او تصویب شو چې اوس یې په رڼا کې ټولې اړوند پرېکړې کوي. یاده څانګه د کورني کرکټ ترڅنګ د افغان کرکټ د ټولو سیالیو لپاره له وړاندې علمي سیمینارونه او ورکشاپونه تنظیموي، په یاد ډګر کې عامه پوهاوی ترسره کوي او ټول لوبغاړي د فساد پر وړاندې د فیکسرانو د تخنیکونو او تکتیکونو خبروي، څو د دوی هغوی له لوري دوکه نه شي او په خپل وخت اداره په جریان کې کړي. دغه راز باید وویل شي چې د کرکټ نړیوالې شورا د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه په ۲۰۰۰ م کال کې د یو انګلیس ډګروال (الیکس مارشل) له لوري رامنځته شوه چې اوسمهال د بېلابېلو هېوادونو استازي پکې کار کوي.

د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې اساسي او مهمې چارې

- د کرکټ بورډ اړوند ټولو لوبغاړو ساتنه او څارنه.
- د کرکټ په ډګر کې د فساد پر وړاندې جدي مبارزه کول.
- لوبغاړو ته د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ورکشاپونه او سیمینارونه جوړول.
- د لوبغاړو د دوسیو تنظیم، ترتیب او څېړنه
- کورنیو او نړیوالو لوبو کې له لوبدلې سره د ټولو تلونکو مسوولینو څارنه.
- د کرکټ لوبې په ټولو چارو کې له روڼتیا او شفافیت څارنه کول، همدارنګه د ټولو اړوند شته قوانینو په چوکاټ کې له لوبغاړو څارنه کول.
- د یادې څانګې لپاره د شته پالیسیو قوانینوعملي کول.

ورځنۍ چارې

- لوبغاړو او اداري مسوولینو ته له سیالیو وړاندې د فساد پر وړاندې د مبارزې قوانین اوپالیسي تشریح کول.
- د لوبډلو د نوملړونو له ترتیب وروسته د لوبو ځای ته د ځان رسول او همدارنګه تخنیکي اسانتیاوې رامنځته کول.
- د PMOA تعقیبول، لوبغاړو او اداري کارکوونکو ته د اصولو او پالیسو په رڼا کې اسانتیاوې رامنځته کول.

د اصلاحاتو او روڼتیا رامنځته کول

د کرکټ بورډ اداري د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه کې اوسمهال د تېر په پرتله ډېر بدلون رامنځته شوی دی. اوسمهال په خپل وخت د ملي، الف، نولس کلنو او د کورني کرکټ لوبغاړو د دوسیو څارنه او څېړنه کېږي چې د کرکټ د نړیوالې شورا د پالیسی پر بنسټ یې بشپړه څېړنه کېږي چې دا د ی اوسمهال د تېر په پرتله په ډېرو برخو کې روڼتیا رامنځته شوې ده او هر لوبغاړي ته خپل حق رسیدلي او سپارل شوی.

د دغې څانګې شعار

د افغانستان کرکټ بورډ د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې شعار، په اداره کې د لا ډېرې روڼتیا او شفافیت رامنځته کول، له فساد څخه په بشپړ ډول د افغان کرکټ پاکول، په مشخص او ټاکلي وخت خپلو ټولو مسولیتونو ته لاسرسی او د درغلیو، اداري فساد او بډو یا رشوت پر وړاندې جدي مبارزه کول دي.

موخې او اهداف:

- د کرکټ بورډ اداري د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه د یو بشپړ او روڼ سیستم رامنځته کولو لپاره کار کوي او دغه چاره یې په لومړیتوب کې ځای لري.
- د لوبغاړو په اړه د بشپړو مالوماتو وروسته د هغوی دوسیې په بشپړه بې طرفۍ څېړنه او د کرکټ نړیوالې شورا د پالیسی له مخې، د کرکټ بورډ اداري رهبری او رسنیو سره شریکول.
- اداره کې د لا ډېره او غوره همغږي رامنځته کول او د یوه بشپړ روڼ سیستم رامنځته کول.

د دغې ځانګې پیغام:

ځوان افغان کرکټ ته وده او پرمختګ ورکول او دغه شریک ارمان ته په شریکه کار کول.

نوټ: د دغې ځانګې کارکوونکي د کرکټ له مینه والو هیله کوي چې که چېرې د فساد ضد کومه دوسیه ویني نو په لاندې شمېرې او برېښنالیک ورسره اړیکه ونیسئ.

۰۷۸۱۵۰۰۰۰۹

ACSU@afghancricket.af

کلاه ایمنی کرکت
(Cricket helmet)

توپ اندازان سریع در بازی کرکت سرعت پرتاب شان بیش از ۱۴۰ کیلو متر در ساعت می‌باشد و اگر توپ با این سرعت با سر یا چهره بازیکن برخورد نماید، شاهد یک حادثه خطرناک در جریان بازی خواهیم بود؛ به همین دلیل باید وقتی بازیکنان در برابر توپ اندازان سریع قرار می گیرند، باید کلاه ایمنی برسر داشته باشند. ضمن توپزن در بازی کرکت، ویکیت کیپر(شخصی که در عقب ویکیت ها استاده می‌شود) و فیلدر نزدیک به توپزن(Sil-

ly) نیز نیاز به کلاه ایمنی دارند. کلاه ایمنی در بازی کرکت نهایت ارزشمند و یک وسیله خوب برای محافظت سر است که برای نخستین بار در سال ۱۹۳۰ توسط پاستی هیندرین ساخته و استفاده شد اما پوشیدن کلاه ایمنی در بازی کرکت تا سال ۱۹۷۰ رایج نبود، در نهایت دینیز ایمز نخستین بازیکنی بود که در بازی های جام جهانی کلاه ایمنی بر سر گذاشت.

Predator Helmet

Players Helmet

Legend Helmet

Helmet Screws

Elite Helmet

Warrior Helmet

مایک بریرلی دومین بازیکنی بود که برای خودش کلاه ایمنی ساخت و در جریان بازی به سر کرد. تونی گریگ در رابطه به کلاه های خودساخت بازیکنان گفته بود، استفاده از این گونه کلاه های غیر معیاری میتوانند خطرناک ثابت شود، چرا که توپزن، توپ انداز سریع را اطمینان میدهد که سر من امن است و می‌توانید به دل آرام پرتاب سریع نماید. گراهام یالوف بازیکن تیم ویست اندیز نیز به تاریخ ۱۷ ماه مارچ سال ۱۹۷۸ از کلاه ایمنی در جریان بازی استفاده کرد اما باید

گفت که این کلاه نیز معیاری نبود.
همچنان در دنیای کرکت بازیکنانی نیز وجود داشتند که حتا یکبار نیز کلاه ایمنی بر سر نکردند که ویو ریچاردسن یکی از این بازیکنان بود که در سال ۱۹۹۱ از کرکت خداحافظی نمود.
در بازی های کرکت بر سر کردن کلاه ایمنی جبری نیست و اگر بازیکنی میخواهد کلاه بر سر نماید پس مجبور است که از کلاه های معیاری استفاده نماید.
کلاه ایمنی که اکنون در بازی های کرکت استفاده میشود، به معیار بالا از پلاستیک ای بی ایس (ABS Plastic)، فایبرگلاس (Fibreglass)، کاربن فایبر (car-bon fiber)، تیتانیم (titani-um) ، ستیل(steel) و اسفنج (foam) ساخته شده است.
ادارات کرکت بورد کشورهای انگلستان و ویلز در رابطه استفاده از کلاه ایمنی گفته اند، هربازیکنی که در فاصله هشت یارد از ویکیت ها (Stump) قرار دارند باید کلاه ایمنی داشته باشند. کرکت بورد استرالیا می گوید که توپزن باید در هر حالت کلاه ایمنی برسر نماید اما کشور های هند، پاکستان و نیوزیلند بازیکنان خود را در استفاده از کلان ایمنی خودمختار گذاشته اند.
همچنان برخی بازیکنان مشهور دنیای کرکت در رابطه به اهمیت کلاه ایمنی نظر های متفاوتی داشتند.
ریچاردسن گفته بود که برسر کردن کلاه ایمنی نشان ترس یا بی جرئتی بازیکن است، سونیل گواسکر گفته بود که کلاه ایمنی دید چشم توپزن را ضعیف می‌سازد و الیستر کوک از کلاه های ایمنی ساخت قدیم استفاده میکرد چرا که وی کلاه های معیاری و ساخت جدید را خوش نداشت.
فلیپ هیوز که بر جریان بازی در نتیجه برخورد توپ به گردن اش جان باخت یکبار دیگر ایمن

بودن کلاه های ایمنی کرکت را زیر سوال برد و این حادثه بر روحیه بازیکنان دیگر نیز تاثیر منفی گذاشت و شورای بین المللی کرکت را مجبور ساخت که دیزاین کلاه ها را تغیر داده و دو بخش دیگر در آن اضافه نماید تا به شکل بهتر از گردن و سر بازیکنان حفاظت شود.
در نتیجه باید گفت که بیشتر مبصرین و آگاهان کرکت تاکید بر این دارند که در جریان بازی باید به گونه حتمی از کلاه و وسایل ایمنی استفاده شود، چرا که نظر به پیشرفت بازی کرکت، سرعت و خطرات این بازی نیز بیشتر شده است.
لازم به ذکر است که در آینده به ادامه این موضوع، وسایل و فن های مسلکی دیگر بازی کرکت را نیز برای تان به معرفی میگیریم و امید است که مورد علاقه تان قرار بگیرد.

RANA Technologies Enterprises

The most trusted ISP/ICT Company in Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

- Internet Service
- IT Hospital
- Malomaat 411
- RANA BPO

For more information call

0798 85 85 85

RANA رانا TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan

www.ranatech.com info@ranatech.com

تیم خوست زلمیان جام قهرمانی اکادمی ها را از آن خود کرد

اداره کرکت بورد افغانستان برای نخستین بار مسابقات میان اکادمی‌های برتر به سطح زون ها را انجام داد که در بازی نهایی این مسابقات، تیم خوست زلمیان توانست تیم اکادمی کابل زلمیان را با تفاوت ۵۱ دوش شکست دهد و قهرمان این جام را از آن خود نماید. قرعه بازی نهایی این جام را تیم کابل زلمیان برد و فیصله کرد که نخست در برابر تیم خوست زلمیان توپ اندازی نماید. تیم خوست زلمیان در نیمه نخست این بازی به توپزنی پرداخت که در ۳۷،۵ آور با از دست دادن تمام ویکیت ها ۲۲٦ دوش به تیم مقابل هدف تعین کرد. از میان خوست زلمیان اکبر علی ۷۳، محمد الله ٦۰ و نعمت الله زدران ۲۷ دوش به سود تیمش انجام دادند، در حالیکه از جمله توپ اندازان کابل زلمیان عبدالوهاب سه ویکیت، بلال سمیع، ریاض حسن و جمعه سلطانی هر کدام دو ویکیت و ننگیالی خان یک ویکیت به سود تیم کابل زلمیان بدست آوردند. تیم کابل زلمیان در نیمه دوم بازی به توپزنی آغاز کرد که در۳۷،۵ آور با از دست دادن تمام ویکیت ها ۱۷۴ دوش انجام داد و بازی را با تفاوت

۵۱ دوش به تیم خوست زلمیان واگذار نمود. ریاض حسن ٦۸ و ننگیالی ۳۹ دوش به سود تیم کابل زلمیان بدست آوردند، در حالیکه از میان خوست زلمیان هاشم و خلیل گربز هرکدام سه ویکیت، باختر اتل دو ویکیت، نسیم منگل و نعمت الله زدران هرکدام یک ویکیت به سود تیم خود بدست آوردند. باید یادآوری شود که هاشم توپزن تیم خوست زلمیان که سه بازیکن تیم مقابل را از بازی بیرون کرده و ۸۱ دوش نیز به سود تیم اش انجام داد، جایزه بهترین بازیکن این بازی را بدست آورد. گفتنی است که عارف خوشحال بازیکن تیم السعادت کندهار که در این سلسله بازی ها ۱۹۰ دوش و شش ویکیت بدست آورده بودند؛ جایزه بهترین بازیکن، رحیم منگل توپزن تیم کابل زلمیان که در این بازی ها ۲۱٦ دوش انجام داده بود جایزه بهترین توپزن و هاشم توپ انداز تیم خوست زلمیان که در این بازی ها ۱۰ ویکیت بدست آورده بود، جایزه بهترین توپ انداز این تورنمنت را بدست آوردند. لازم به ذکر است که این بازی ها، بین چهار اکادمی برتر زون ها (خوست زلمیان، کابل زلمیان، السعادت کندهار و اشرف کندز) در ورزشگاه ولایت خوست راه اندازی شده بود که بتاریخ ۳۰ ماه دسامبر سال ۲۰۲۰ پس از ۹ روز با قهرمان تیم خوست زلمیان به پایان رسید.

د افغانستان د لوړ قد درلودونکي
رحمت الله (شیرخان)
سره مرکه

د افغانستان د کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته د بهرني او کورني کرکټ د مالوماتو تر څنګ نورپه زړه پورې موضوعات هم لرو چې وخت په وخت به يې له لوستونکو سره شريکو. نن مو د افغانستان د لوړ قد لرونکي رحمت الله(شېرخان) سره مرکه چمتو کړې چې موږ سره به د خپل د ژوند په اړه نظر شريکوي.

پوښتنه : که په سر کې د افغانستان کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته خپل ځان وپېژنې مهرباني به مو وي؟
ځواب : نوم مې رحمت الله دی خلک مې په شېرخان پيژني، د کابل ولايت د چهار اسياب ولسوالۍ اوسيدونکی يم، اوس هم په خپله ولسوالۍ کې ژوند کوم

پوښتنه : زده کړې مو کړي او که نه ؟
ځواب : نه خير زده کړې مې نه دي کړي ډېره مينه مې وه چې زه بايد زده کړې وکړم، خو بد بختانه د مالي ستونزو له امله مې ونه شو کړای چې ښوونځی ووايم، له ماشتوبه په مزدورۍ بوخت يم او لا لګيايم.
پوښتنه : که دا راته ووياست څو کلن يې او کورنۍ کې څو غړي ياست؟
ځواب : ۲۷ کاله عمر لرم، درې ورونه، دوه خوېندې يو او شکر مور پلار مې هم ژوندي دي ټول يو ځای ژوند کو.

پوښتنه : د قد ثاری مو نه وینم که مالومات راکړې په کورنۍ کې مو بل کوم شخص هم ستاسې په ځېر دنګ څوک شته او که نه؟
ځواب: د الله مهرباني ده چې زه يې د دنګې ونې څخه برخمن کړی يم، نه خير يواځې زه خپله لوړقد لرم، نور د کور غړي مې عادي قد لري، کله چې زه وزېږيدلم هغه مهال هم زه د نورو ماشومانو په پرتله غټ وم، ډاکترانو زما د کورنۍ غړو ته ويلي و که دا ماشوم ستر شو نو په اوجود کې به يې ځينې طبعي ستونزې موجودې وي، لېکېن د الله په فضل هغسې ونه شول.

پوښتنه : تاسې ډېر وخت د افغانستان د کرکټ په سياليو کې د نندارچيانو په منځ کې په نظر راځې که علت يې ووایاست؟
ځواب : هو زه تل کوښښ کوم چې د افغانستان کرکټ سيالي له نږدې څخه ننداره کړم، غټ لامل يې زما د کرکټ سره ليونۍ مينه ده چې له ماشومتوب څخه مې د کرکټ سره لرله، ما هم غوښتل چې زه دغه لوبه زده کړم، خو له بده مرغه به ووايم له يو لوري زما مالي ستونزې او له بل پلوه هغه مهال کرکټ هم دومره پر مخ نه و تللی، يعنې اکاډمياني نه وې او زما د لاربښوونې هم څوک نه و چې ماته کرکټ وښايي.

پوښتنه : شېرخانه! دا راته ووايه د کرکټ په بهرني او کورني لوبغاړو کې مو کوم، کوم د خوښې لوبغاړی دی؟

ځواب : په بهرني لوبغاړو کې مې د سویلي افریقا هاشم امله د خوښې لوبغاړی دی، او په کورني لوبغاړو کې د ټولو لوبغاړو سره مینه لرم، او زموږ ټول لوبغاړي ما سره مینه لري، خو ستاسې پوښتنه ما لپاره به گرانه تمامه شي، بیا به هم ووایم چې اصغر افغان مې د خوښې لوبغاړی دی.

پوښتنه : کله مو بهرني هیوادونو ته سفر کړی؟

ځواب : سفر مې کړی خو ډېرو هېوادونو ته نه یم تللی پاکستان او هند ته ډېرځم راځم ځکه په دې دواړه هېوادو نو کې زه ډېر ملګري لرم او هغوی بلنه راکوي.

پوښتنه : هېواد کې ډېر ځوانان تا سره انځورونه اخلي، تاسې خپلو خبرو کې وویل چې هند او پاکستان ته ډېرځم ایا همداسې انځورونه هلته هم له تا سره خلک اخلي؟

ځواب : لکه ښنگه چې هېواد کې راسره ولس مینه لري هند او پاکستان کې هم نا پېژنده خلک راسره مینه کوي، پر لاره روان خلک مې دروي انځورونه راسره اخلي، راڅخه پوښتنه کوي چې د کوم هېواد یې؟ زه په ویاړ ورته وایم چې د افغانستان اوسېدونکی یم.

پوښتنه : خپل د لوړ قد څخه راضي یاست؟

ځواب : زه ډېر خوښ یم چې الله تعالی راباندې د دنګې ونې پېرزوینه کړې، خو ځینې وخت نا امیده شم، ځکه د حکومت له لورې پر ما کار نه دی شوی، باید زه یې ورزش ته ویستی وم، په خپل اوجود باوري یم که د ورزش په هره برخه کې پر ما یې پاګونه کړې وه نو ما یې پور ادا کولی شو، ډېر هېواد وال راته وایي چې ځان یو بل هېواد ته اوباسه! له نېکه مرغه به ووایم زما احساس او هېوادنی مینه اجازه نه راکوي چې زه د بل هېواد تابیعت تر لاسه کړم.

پوښتنه : که فکر وکړو نو ستا د پښو اندازه ډېره ستره ده دلته ستا د پښو ښپلۍ یا بوټان تر لاسه کیږي؟

ځواب : هېواد کې خو پرېږده هند او پاکستان کې مې هم خپل د پښو بوټان او ښپلۍ ونه موندلې، تېره میاشت

پاکستان ته تللی وم هلته مې په فرمایش دوه جوړې ښپلۍ ځان لپاره جوړې کړې.

پوښتنه : غیر له بوټانو او ښپلیو نور کوم هغه د ضرورت وړ توکي دي چې په عام بازار کې ستا لپاره نه موندل کیږي؟

ځواب : ډېر څه دي چې زما د اوجود سره په ټکر کې دي، او ګټه ترې نشم اخیستلی، زما جامې،بستره ، کټ هر څه په فرمایش جوړیږي.

پوښتنه: که چېرې کله یوځای ته مېلمه لاړ شې له ستونزو سره نه مخ کیږې؟

ځواب : ولې نه کله چې یو ځای ته مېلمه لاړ شم هر څه خو له ځان سره نشم وړلې، نو بیا ټوله شپه بستره کې راټول پروت یم

پوښتنه : تر دې دمه مو د ځان ښخه دنګ شخص لېدلی؟

ځواب : هو لیدلي مې دي خو د هغو اوجود کې ډېرې ستونزې وې، په پښوکې، په ملاکې او د اوجود په نورو برخو کې نیمګړتیاوې لري خو زه شکر د اوجود په یوه برخه کې ستونزه نه لرم ښه تکړه او چټک یم.

پوښتنه : په خوړو کې مو د خوښې خواړه څه دي؟ او که دا هم راته ووایې چې د نورو په توپیر خواړه ډیر خورې او که لږ؟

ځواب : د خوښې خوراک مې خوروا ده، خو دا به ووایم چې ډېر کم خواړه خورم یعنې اشتها مې تل کمه وي.

پوښتنه : شپږیزې اووم پړاو سیالۍ کې د افغانستان د کرکټ بورډ مشرتابه له لوري تاسې ته مډال او نغدي جایزه درکړل شوه، څومره خوښ یې ترې؟

ځواب : زه د کرکټ بورډ ریس فرهان یوسفزي او د ټولو کارکونکو ښخه یې مننه کوم چې تل یې ماته مینه راکړې، او زه یې په ډالیو نازولی یم ، په چارو کې ورته بریالیتوب غواړم.

پوښتنه : موسیقي سره هم مینه لرې که څنګه؟ که لرې کوم سندرغاړی په مینه اورې؟

ځواب : موسیقي ډېره اورم، ځانګړی سندرغاړی مې د خوښې لپاره نه دی ټاکلی، ډېر وخت اتڼیزې سندرې اورم.

پوښتنه : په وروستیو کې که خپلو هېواد والو ته کوم پیغام لرې نو مهرباني وکړئ؟

ځواب : زما خپلو هېواد والو ته دا پېغام دي چې خپلو کې سره مینه وکړئ د هېواد په ابادی کې یو بل ته اوږه ورکړئ، په خپلو بچیانو زده کړې وکړئ، د مشرانو قدر او په کشرانو شفقت وکړئ

یو شمېر لوبڅارانو ته د لوبڅارنې د لومړی کچې ځلور ورځنی کورس پیل شو

د ډسمبر میاشتي په ۱۸مه د افغانستان کرکټ بورډ په مرکزي دفتر کي د لوبڅارني د لومړی کچي ځلور ورځنی ورکشاپ پیل شو چي د رواني ډسمبر میاشتي تر ۱۷مي نېټي پوري به دوام ومومي او په وروستي ورځ به یې هم دوی ته د یوي سناریویي لوبي په ترسره کولو سره عملي زده کړي ورکړل شي.

دغه ځلور ورځنی ورکشاپ چي د افغانستان کرکټ بورډ د لوبي پرمختیا او ملي کرکټ اکاډمی ځانګي له لوري پیل شوی، د یادي ځانګي مسوول ښاغلي فردوس غني یې د پرانېستي پر مهال وویل، دا د ویاړ ځای دی چي د لومړي ځل لپاره په هېواد کي د لوبڅارني د لومړی کچي د ۲۳ لوبڅارانو لپاره ورته ورکشاپ پیلیږي.

نوموړي د خپلو خبرو په ترځ کي زیاته کړه، د یاد ورکشاپ د ترسره کولو یوازېنی موخه د لوبڅارانو د ظرفیت او وړتیا لوړول او همدارنګه د دوی د مهارتونو ښه کول دي.

نوموړي د یاد ورکشاپ ګډونوالو ته په خطاب کي وویل: ((تاسو دلته اوسمهال له ملي لوبڅارانو زده کړي کوئ او د خپل ملي مسوولیت په توګه مکلف یاست چي په اړوند ولایتونو او ولسوالیو کي یې له نورو لوبڅارانو سره هم شریک کړئ.))

باید وویل شي د دغي کچي ورکشاپ تر فارغېدو وروسته به یاد لوبڅاران وکولی شي چي په کورنیو او نړیوالو لوبو کي لوبڅارنه ترسره کړي.

دغه راز د یادوني وړ ده چي په یاد ورکشاپ کي د هېواد له اتلسو ولایتونو هغه لوبڅاران (امپایران) ګډون لري چي له دې وړاندي یې د لوبڅارني په ابتدایي کورس او روزنیزو ورکشاپونو کي ګډون کړی وو.

پاتي دې نه وي چي د لومړی کچي لوبڅارانو ورکشاپ ګډونوال به د عملي روزني او ازموینې لپاره د ورکشاپ په وروستي ورځ د ننګرهار په غازي امان الله خان کرکټ لوبغالي کي د یوي ورځي لپاره عملي زده کړي هم وويني.

ICC AWARDS OF THE DECADE

The winners in illustrations

Women Teams of the Decade (TOTD) compiled by the Voting Academy of journalists and broadcasters:

ICC Spirit of Cricket Award of the Decade – An action, moment, gesture, or decision on the field of play in international cricket during the performance period which best reflects the Spirit of Cricket:

ICC Women's Associate Cricketer of the Decade – The best overall performer in women's Associate cricket during the performance period:

2011 Winner – MS Dhoni (India)

2012 Winner – Daniel Vettori (New Zealand)

2013 Winner – Mahela Jayawardene (Sri Lanka)

2014 Winner – Katherine Brunt (England)

2015 Winner – Brendon McCullum (New Zealand)

2016 Winner – Misbah-ul-Haq (Pakistan)

2017 Winner – Anya Shrubsole (England)

2018 Winner – Kane Williamson (New Zealand)

2019 Winner – Virat Kohli (India)

Teams of the Decade (TOTD) compiled by the Voting Academy of journalists and broadcasters for the following five formats are:

ICC Men's Associate Cricketer of the Decade – The best overall performer in men's Associate cricket during the performance period:

- Richie Berrington (Scotland)
- Peter Borren (Netherlands)
- Kyle Coetzer (Scotland)
- Paras Khadka (Nepal)
- Calum MacLeod (Scotland)
- Assad Vala (PNG)

ICC Women's Associate Cricketer of the Decade – The best overall performer in women's Associate cricket during the performance period:

- Kathryn Bryce (Scotland)
- Sarah Bryce (Scotland)
- Natthakan Chantham (Thailand)
- Sterre Kalis (Netherlands)
- Chanida Sutthiruang (Thailand)
- Sornnorin Tippoch (Thailand)

ICC Men's T20I Cricketer of the Decade – The best overall performer in men's T20I cricket during the performance period:

- Aaron Finch (Australia)
- Chris Gayle (West Indies)
- Rashid Khan (Afghanistan)
- Virat Kohli (India)
- Lasith Malinga (Sri Lanka)
- Rohit Sharma (India)
- Imran Tahir (South Africa)

ICC Women's T20I Cricketer of the Decade – The best overall performer in women's T20I cricket during the performance period:

- Sophie Devine (New Zealand)
- Deandra Dottin (West Indies)
- Alyssa Healy (Australia)
- Meg Lanning (Australia)
- Ellyse Perry (Australia)
- Anya Shrubsole (England)



ICC Men's ODI Cricketer of the Decade – The best overall performer in men's ODI cricket during the performance period:

- MS Dhoni (India)
- Virat Kohli (India)
- Lasith Malinga (Sri Lanka)
- Kumar Sangakkara (Sri Lanka)
- Rohit Sharma (India)
- Mitchell Starc (Australia)
- AB de Villiers (South Africa)

ICC Women's ODI Cricketer of the Decade – The best overall performer in women's ODI cricket during the performance period:

- Suzie Bates (New Zealand)
- Jhulan Goswami (India)
- Meg Lanning (Australia)
- Ellyse Perry (Australia)
- Mithali Raj (India)
- Stafanie Taylor (West Indies)

Rachael Heyhoe-Flint Award for ICC Female Cricketer of the Decade – The best overall performer in women's international cricket (Tests, ODIs and T20Is) during the performance period:

- Suzie Bates (New Zealand)
- Meg Lanning (Australia)
- Ellyse Perry (Australia)
- Mithali Raj (India)
- Sarah Taylor (England)
- Stafanie Taylor (West Indies)

ICC Men's Test Cricketer of the Decade – The best overall performer in men's Test cricket during the performance period:

- James Anderson (England)
- Rangana Herath (Sri Lanka)
- Virat Kohli (India)
- Joe Root (England)
- Yasir Shah (Pakistan)
- Steve Smith (Australia)
- Kane Williamson (New Zealand)

The ICC Awards of the Decade Winners Announced

The winners of the prestigious ICC Awards of the Decade including the Rachel Heyhoe-Flint for Best Female Player and Sir Garfield Sobers for Best Male Player, were announced simultaneously across all ICC Digital channels, as well as the Star Sports Network, on Monday, December 28.

The ICC Awards of the Decade will recognise the best players across cricket over the past 10 years, and the for the first time the fans' voice will be heard in selecting the winners across categories including the Sir Garfield Sobers and Rachael Heyhoe Flint Awards, which celebrate the best overall player from the men's and women's game over the past decade. The fan vote will make up 10% of the voting, while votes from an expert panel will make up the remaining 90%.

Fans will provide 100% of the vote for the ICC Spirit of Cricket Award of the Decade, from a list of the past winners since 2011.

The voting opens at 13:00 hours GST on Wednesday 25th November and closes at 22:30 hours GST on Wednesday 16th December. Fans can register on our website icc-cricket.com/awards and vote for those shortlisted by an Awards Nominations Committee, based on performances during the period 1st January 2011 to 7th October 2020.

The top prize for voters is a once in a lifetime experience at the ICC Men's T20 World Cup 2021 in India, including flights, accommodation, and pitch-side access to a Super 12s match. Other prizes include 45 pairs of match tickets, 15 Oppo Reno 4pro mobile phones and 50 $50 vouchers redeemable at the official T20 World Cup merchandise shop at the tournament.

The nominees for each of the categories have been determined by the Awards Nominations Committee according to on-field performances and overall achievements for at least five years during the period.

Award winners will be announced next month and will culminate in a special ICC Awards of the Decade digital show, to be broadcast on the ICC digital channels and will take into account the fans' votes as well as those by a global panel of journalists and broadcasters.



The complete list of nominees for the ICC Awards of the Decade are as follows:

Sir Garfield Sobers Award for ICC Male Cricketer of the Decade – The best overall performer in men's international cricket (Tests, ODIs and T20Is) during the performance period:

- R Ashwin (India)
- Virat Kohli (India)
- Joe Root (England)
- Kumar Sangakkara (Sri Lanka)
- Steve Smith (Australia)
- AB de Villiers (South Africa)
- Kane Williamson (New Zealand)

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزیزی بانک
Azizi Bank

انټرنټ له لارې بانکوالي

- د عزیزي بانک په حسابونو کې په یو وار د زیاتو معاملاتو ترسره کول
- څو سطحي یا د څو صلاحیت لرونکو تایید (ګڼ واکونه)
- په ګروپ کې د یوصلاحیت لرونکي تایید (ډله ایز واکونه)

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af